د لوی څښتن تعالی په نامه

## په بن کې د افغانستان د نړیوال کنفرانس لپاره د افغانستان د مدنی ټولنی د بنسټونو پیغام

په دی اند چه په بن کی دوهم نړیوال کنفرانس د افغانستان د اسلا می جمهوری دولت او نړیوالی ټولنی لباره د بنسټیزی پراختیاو د قانون د حا کمیت ، ښی حکومت داری ، سوله د عدالت سره او د افغانستان د ربړیدلو خلکو د حالت د سمون لپاره د هلو ځلو یوه ښه موقع ده.

د تیرو لسو کلو له تجربی څخه په ګټه اخستنه او له لاسه وتلو فرصتونو په نظرکی نیولو سره د افغانستان اسلامی جمهوری دولت او نړیواله ټولنه د یوه ځانګړی لرلید په نظر کی نیولو سره په هر اړخیزه توګه په افغانستان کی د امنیت راوستلو لپاره خپلی هلی ځلی یو کړی تر څو د افغانستان اوسیدونکی اونور ملکونه یو ځل بیا د تورووریزم او سیمی د ناخوالو خوراک نشی.

د انسانی حقونو د ارزښتو نو په ساتلو او د تیرو لسو کالو د لاسته راوړنو په تاکید سره چی افغانان د هغه شاهد دی، د افغانستان اسلامی جمهوری دولت باید زیار وباسی تر څو خپل کاری ظرفیت، د مدیریت نشتوالی، د فساد سره مبارزه، د ټولنیزو او پرمختیایی خدمتونو وړاندی کول، د د موکراتیکو بنسټونو تقویه کول، د بنسټیزو ازادیو او رسنیو آزادی، د انسانی حقوقو درناوی، د قانون څخه د تیښتی او د بښنی د فرهنګ ختمول، د حق او عدالت تأمین او په زیاته اندازه د خلکو زیان ځپل کمول ( په خاصه توګه د ظلم د قربانیانو او بی عدالتی په وړاندی ) لومړی توب ورکړی تر څو په حکومت او نظام باندی د خلکو باور زیات شی.

د تیرو ټکو په نظرکی نیولو سره د افغانستان مدنی ټولنه د انتقال د پروسی، د نړیوالی ټولنی اوږد مهاله ژمنی، د سولی او ادغام مجدد په پروسه کی د افغانستان د خلکو د راتلونکی په اړه د یوه واحد او شریک لرلید د تقویی او حمایی په خاطر د افغانستان اسلامی جهوری دولت او نړیوالی ټولنی ته لاندی ټکی پشنهادوی.

### ○ د انتقال مرحله

<u>د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت څخه هیله :</u>

- د امنیتی مسولیتونو د انتقال دوهمه مرحه د لومړی مرحلی د ښی څیړنی او له هغه څخه د ز ده کړی په نظرکی نیولو سره ظرفیتونه، انسانی او مالی سرچینی او د خلکو په رضایت او غوښتنه صورت ومومی.
- ددی پروسی ملکی طرف ته متوازنه توجه ( د ټولنیزو خدماتو د وړاندی کولو کیفیت بیله قومی او جنسی تبعیض څخه، ښه حکومت داری ، د اداری فساد په وړاندی اغیزمنه مبارزه، د انسانی حقونو درناوی، د قضایی نظام اصلاح او آزادی ) د نظامی اړخ سره یوځا ی( د امنیتی بنسټونو تقویه ، تجهیز او کیفیت) صورت ومومی.
- د قانون حاکمیت، د بنسټونو تقویه په دموکراتیکه توګه ( یعنی د انتخاباتی پروسی اصلاح او آزادی او ښایسته سالاری ) د دولت د کاری برنامو په سر کی قرار ولری.
- د دولت د دری ګونو قواوو تر منځ د ښو روابطو تأمینول او په خاصه توګه د یوی مسلکی کابینی منځ ته راوړل چی مو ثره وی او د مشکلاتو د حل وړتیا ولری.

<u>د نړیوالی ټولنی څخه هیله :</u>

- دسیستم او بنسټونو تقویه کول ( په خاصه توګه دموکراتیک بنسټونه او مدنی ټولنه) اود نظام په جوړولو زور اچول ددی پرځای چی د خاصو اشخاصو او تنظیمو سره مرسته وشی.
- د ممثلو موازی امنیتی تشکلاتو مخینوی ( اربکیان، محلی پولیس او امنیتی کمپنی) ، او د ملی قو تونو تقویه ( ملی اردو او ملی پولیس).
- په افغانستان کی د دولت او ملت جوړولو په مرحله کی د سیاسی مالی او تخنیکی پروسی څخه د حمایی دوام، او په سیمه کی د نا امنی د مخنیوی په وجه د سیمی په مداخله کونکو قوتونو سیاسی فشار اچول.

- د مدنی ټولنی، انسانی حقونواو د ښځو د حقونو د فعالینو او مدافعانو همیشنی رول څخه حمایت د نظارت، مشوری ورکولو او ښی حکومت داری په برخه کی .

<u>د افغانستان د دولت او نړیوالی ټولنی څخه په یوه وخت غوښتنه</u>

د مسولیتونو د انتقال په پروسه کی هیله کیږی تر څو دمدنی ټولنو د ظرفیت او قوت څخه چی اوس شته د ټولنیزو خدمتونو په وړاندی کولو او د افغانستان د ملی اولویتونو د تطبیق د برنامی (NPP) حمایه او مؤثره ګټه واخستل شی.

## ○ د نړیوالی ټولنی اوږدمهاله ژمنی

<u>یدی هکله په خاصه توګه د نړیوالی ټولنی څخه غوښتنه کیږی:</u>

- د افغانستان د دولت سره اوږد مهاله مرستی د اوږدمهاله او پرمختیایی پروژو د تطبیق په هکله ( د غریبی د کمولو لپاره اغیزمن پروګرامونه، د داخلی صنایعوڅخه حمایه، زراعت ، اوبه لګونه ، تجارت، د سرکونو جوړول او نور بنسټیز تأسیسات ) چی افغانستان ځان بسنی اوتل پاته پراختیا ته ورسوی دوام ورکړی.
- د تیرو لسو کلنو د تجربو په نظرکی نیولو سره ( په سیمیزه او نړی واله کچه)، مخدره مواد ( کرل، تولید او د هغه قاچاق ) سره کلکه مبارزه وکړی او د افغانستان د اسلامی جمهوریت ظرفیت د هغه سره د مقابلی حد ته ورسوی.
- د دقیقی احصایی په وړاندی کولو سره چی د سرشماری له لاری سرته رسی او دملک د پرمختیا او اقتصاد لپاره اهمیت لری د مالی، تخنیکی او امنیتی لارو څخه تقویه کړی.
- د اداری فساد په وړاندی ځانګړی سیاست او عملی مبارزه د افغانستان جمهوری دولت او دمدنی ټولنی او د انسانی حقونو بنسټونه د هغه په نظارت کی د ښی او ځواب ویونکی حکومتداری حمایت او تقویه کړی.
- د کومکونو اغیزمنتوب او څیرنه د مدنی ټولنو او خلکو د انتخاب شویو بنسټونو د رول او نقش په تقویی سره زیات او اغیزمن وګرزوی.
- د مدنی ټولنو او دموکراتیکو بنسټونو په تقویی چی د سیمی د هیوادونو په منځ کی خصوصاً د پاکستان او افغانیستان ترمنځ د پله حیثیت لری وړسیاسی او تخنیکی مرسته وکړی.

## ○ د حل سیاسی لاری چاری اوادغام مجدد

د افغانستان مدنی ټولنه د سولی او مذاکری له هلو ځلو چی د انسانی حقونو، د ښځو د حقونو، ټولنیز عدالت، د جنګ د قربانیانو غوښتنه، چی دینی او ملی ارزښتونه پکی نغښتی وی مرسته کوی نو لدی کبله د افغانستان د اسلامی جمهورت څخه غواړی:

- د تیرو تجربو او یو اړخیز ناوړه امتیازی سیاست، د سولی او ادغام مجدد ستراتیژی باید د ریښتینی حکومت داری د فساد پر وړاندی اغیزمنی مبارزی، د قضایی نظام اصلاح او د هغه د عمل آزادی، د ښښی د فرهنګ ختمول د عدالت د تأمین لپاره په رڼه او اغیزمنه توګه تطبیق شی.
- د سولی او په خولاینی لپاره هلی ځلی د مدنی او بشری حقونو سره په هم غږی داسی تنظیم شی تر څو د افغانستان اسلامی دولت په روښانه توګه او عملی مکانیزم د دوست او دښمن په تمیز سره خپلی کاری طرحی جوړی کړی.
- د مخکنیو نړیوالو کنفرانسونو او دکابل کنفرانس په رڼاکی د عمل د برنامی، انتقالی عدالت او دقانون د حاکمیت اغیزمنتوب عدالت او قانونی کړه وړه عملی شی.

- د انسانی حقونو ارزښتونه، د ښځو حقوق آساسی او مدنی آزادی په هیڅ صورت د سولی او ادغام مجدد د هلو ځلو قربانی نشی.
- هغه مخالفین چی د سولی او ادغام مجدد د پروسی سره یو ځای کیژی د داسی لاری ښخه چی د حساب ورکولو او عدالت میکانیزم ته ضرر ونه رسوی او د وطن خلکو ته د دوی دوهم ځل ضرر متصور نوی تر څیړنی لاندی ونیول شی.

<u>له نړیوالی ټولنی ښخه هیله کیژی:</u>

- د یوی سیاسی حل لاری او د ادغام مجدد د پروسی د تیزولو تر حده د یوی ستراتیژی په توگه مخکی له وخته وتل و نه شمارل شی.
- په سیمه ایزه او نړیواله کچه د افغانستان ستونزه له نظره لری و نه ساتل شی او د بهرنیو ریشو په له منځه وړلو سره ( د نظامی، اقتصادی او سیاسی فشار) په اچولو د افغانستان د دولت سره مرسته وکړی.
- په افغانستان کی د خپل مو جودیت د قانونی کولو تر وخته او د <u>ژینو</u> د کنوانسیون او نړیوالی ژمنتیا په آساس له ملکی تلفاتو ښخه په جدی توگه مخنیوی وشی ترڅو د مغرضو او بنسټپالو قوتونو د سیاسی گټی اخستنی مخنیوی وشی.
- د مدنی ټولنو او انسانی حقونو د بنسټونورول دجگړی د قربانیانود حمایت، او جنگی جنایاتو ته د لاس رسی د مکانیزم په هکله د دولت د ظرفیت د اوچتولو سره یو ځای مرسته او حمایه وشی.
- د انسانی حقونو نړیوال ارزښتونه او معیارونه په افغانستان کی د مرستی رسولو په ټولو برخو کی ( نظامی او ملکی ) عملی بڼه ونیسی او د مرستندویه او مدنی ټولنو رول په مشوره ورکولو ، کومک رسولو، عامه پوهاوی او عدالت غوښتنه کی مرسته وکړی.

په آخر کی د افغانستان د مدنی ټولنی بنسټونه هیله لری چی د بن کنفرانس داسی یو فرصت وی تر څو د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت نظر د نړیوالی ټولنی او د افغانستان د مدنی ټولنی سره په یو ځای والی د افغانستان د خلکو د راتلونکی لپاره لار جوړه کړی.

د افغانستان د مدنی ټولنی بنسټونه
د بن ښار ، د آلمان فدرالی هیواد
دوشنبه د ډیسمبر ۵ ، ۲۰۱۱.